**چاودنه**
هغه فزیکي عملیه ده چې د منفجره ځانګړې مادې د مالیکولونو د شارتېدو په پایله کې د ورانکارۍ سبب ګرځي.
دری:[انفجار]

**چاودېدونکي مواد او وژونکي وسایل**
هغه اور بلوونکي زهرجن کیمیاوي بیولوژیکي او نور مواد دي چې د وژلو یا سخت ټپي کولو یا په مرضونو د اخته کولو یا د مادي زیان د اړولو وړتیا ولري.
دری:[ مواد منفجره و وسایل کشنده]

**چاودیدونکي توکي**
هغه حساس کیمیاوي ترکیب چې د فونیه ترتیبات ولري او د لږ حرارت ضربې او مبنلو په اثر وچوي او په هغو کی باروت چاودیدونکي مواد شامل دي.
دری: [مواد منفلقه]

**چرس**
چرس یا حشیش د مخدره موادو یوه نوع ده چې د شاهدانې له ګلدارو شاخونو څخه اخیستل کیږي که خالص وي یا له نورو عناصرو سره مخلوط اوسي.
دری:[چرس]

**چک**
هغه تاریخ لرونکی او ارزښت درلودونکی ورقې ته ویل کیږي چې معمولاً په اوسني حالل کې د پېرودنې او په راتلونکي کې د هغې د ورکړې، د استفادې سند دی.
دری: [چک]